عجل بني إسرائيل في بلاد المسلمين

## د مسلمانانو په هېواد کې

# د بني اسرائيلو د خوسکي عبادت

د شام اوسنیو حالاتو ته په کتلو


شیخ سامي بن محمود العُریدي

ژباړن: مولوي عماد الدین خالد






ادارهٔ حطّین

# د مسلمانانو په هېواد کې

# د بني اسرائيلو د خوسکي عبادت

## [عجل بني إسرائيل في بلاد المسلمين]

شيخ ډاکټر سامي بن محمود العُريدي حفظه الله

ژباړن: مولوي عماد الدين خالد

ادارۀ حطين

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿إِنَّ الَّذِينَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ﴾ (الأعراف: ۱۵۲)

" کومو خلکو چې خوسکی خپل معبود نیولی، هغوی به هرو مرو د خپل رب په غضب آخته شي او د دنیا په ژوندانه کې به له رسوایی سره مخامخ وي. دروغ تړونکو ته موږ همدغه راز سزا ورکوو."

# سریزه

# د جهاد د ثمر اتو ساتنه وکړئ

**الحمدلله والصلوة والسلام على رسول الله وبعد،**

الله تعالی فرمايي:

﴿فَاسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ وَمَنْ تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا ۚ إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ○ وَلَا تَرْكَنُوٓا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ ۙ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ○﴾ **(هود: ۱۱۲،۱۱۳)**

«نو (اې پیغمبره ﷺ!) ته او ستا هغه ملګري چې (له کفر او سر غړونې څخه د ایمان او غاړې اېښودلو لوري ته) راووښتي دي، پر سمه لاره هماغسې ثابت قدم اوسئ، لکه څنګه چې درته حکم شوی دی. او د بندګۍ له حد څخه تېری مه کوئ. څه چې تاسې کوئ، هغه ستاسې د رب په نظر کې دي. د دغو ظالمانو لوري ته یو بځری مه کږیږئ، که نه نو دوزخ به مو ونغاړي، او تاسې به کوم داسې دوست او سرپرست ونه مومئ چې د خدای څخه مو وژغورلای شي لو له هېڅ یو ځای څخه به تاسې ته مرسته ونه رسیږي.»

په دغو مبارکو آیتونو کې الله تعالی دوې خبرې ښوولې دي؛ لومړی دا چې د الله تعالی پر هغو احکامو چې ښوولي يې دي، باید استقامت او ټینګښت وښودل شي، او همدا د بریا لار ده... او دوهم دا چې د کافرانو پر لور باید میلان ونه شي، ځکه دا د ناکامۍ لار ده. د کافرانو پر لور د میلان معنا دا ده چې هغوی به مسلمانان د الله تعالی له احکامو څخه منحرف کړي. په دې مبارک آیت کې د اخروي ناکامۍ یادونه شوې ده، یعنې د دوزخ اور به انسان ونیسي، خو په بل آیت کې چې همدا موضوع بیان شوې، هلته الله تعالی د دنیاوي ناکامۍ یادونه هم کړې ده. الله تعالی فرمايي:

﴿وَإِن كَادُوا لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ الَّذِيٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ لِتَفْتَرِيَ عَلَيْنَا غَيْرَهُ ۖ وَإِذًا لَّاتَّخَذُوكَ خَلِيلًا ○ وَلَوْلَآ أَن ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْـًٔا قَلِيلًا ○ إِذًا لَّأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَوٰةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا ○﴾
**(الإسراء: ۷۳-۷۵)**

«(ای محمده ﷺ!) دوی ستا په فتنه غورځولو کې هېڅ سستي ونه کړه: له هغې وحيي څخه دې را واړوي چې موږ درلېږلې ده، تر څو چې ته زموږ په نوم له خپله ځانه کومه خبره جوړه کړې، که تا داسې کړي وای، نو هغوی به هرو مرو ته په دوستۍ نیولې. او لرې نه وه چې که ته موږ ټینګ کړی نه وای، نو ته به د هغوی لوري ته څه ناڅه ورمات شوی وای. خو که تا داسې کړي وای، نو موږ به پر تا په دې دنیا کې هم د دوه برابره عذاب خوند څکلی وای او په آخرت کې به هم د دوه برابره عذاب،

بيا به زموږ په مقابله کې تا کوم مرستندوی نه وای موندلای.»

بېشکه زموږ گران پېغمبر ﷺ له گناهونو پاک او معصوم دی. دلته الله تعالی مسلمانانو ته خبرداری ورکوي چې هېڅکله د کافرانو د دوکې او فريب ښکار نه شئ، داسې مه گڼئ چې که د هغوی خبرې ومنئ، نو هغوی به ستاسو دوستان شي يا به خپله دښمني پرېږدي. او که تاسو داسې وکړئ، نو الله تعالی به تاسو په دنيا کې هم په سختې رسوايۍ اخته کړي او په آخرت کې به هم دوه برابره عذاب وڅکئ. الله تعالی دې موږ ټول ترې وساتي.

امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسير کې فرمايي:

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعْصُومًا، وَلَكِنْ هَذَا تَعْرِيفٌ لِلْأُمَّةِ لِئَلَّا يَرْكَنَ أحد منهم إلى المشركين في شي من أحكام الله تعالى وشرائعه.

«ابن عباس رضی الله عنه فرمايي: رسول الله ﷺ معصوم (له گناهونو پاک) و، خو دلته امت ته ښوونه او خبرداری دی، څو له هغوی څخه هېڅوک د الله تعالی د احکامو او شريعت په هېڅ حکم کې د مشرکانو پر لور ميلان ونه کړي[1].»

د اسلام او مسلمانانو د دې مغلوبيت په پړاو کې، مسلمانان د عزت او سرلوړۍ هيله له هغو کسانو سره تړي چې د الله په لار کې د جهاد لپاره ډگر ته راوتلي دي او د الله د دين د غلبې لپاره په هڅو بوخت دي، خو په خواشينۍ سره بايد وويل شي چې نن د جهاد د لارې د لارويانو لپاره تر ټولو ستره فتنه دا گرځېدلې چې غواړي له لوېديځو قدرتونو او نړيوالو زورواکو سره په جوړجاړي کولو خپل هدف ترلاسه کړي. د دې جوړجاړي په لاره کې هغوی آن هغه بنسټيز اصول هم پرېږدي چې جهاد ورباندې ولاړ شوی و، بلکې د منزل تر رسېدو پورې په گڼو منکراتو کې راگيرېږي، او په پای کې موخه يوازې د کوم شخص يا ډلې غلبه او واکمني پاتې شي. په دې ډول د مسلمانانو بې‌شمېره قربانۍ ضايع کېږي او د جهاد ثمرات له منځه ځي. اسلام چې مخکې مغلوب و، له دې ټولو هڅو وروسته هم مغلوب پاتې کېږي، او مسلمان چې مخکې غلام و، له آزادۍ وروسته هم غلام پاتې کېږي.

ډېر محترم شيخ ايمن الظواهري د شام د جهاد او انقلاب د پيل پر مهال، په ۲۰۱۳م کال کې، په

[1] الجامع لأحكام القرآن، ج ١٠، ص ٣٠٠، ط دار عالم الكتب، الرياض، المملكة العربية السعودية

خپل بیان «خمسة وستون عاماً على قيام دولة الاحتلال إسرائيل» کې د شام خلکو ته ویلي وو:

«د شام د رباط او جهاد په خاوره کې زموږ خلکو! اې د شام د جهاد زمریانو! امریکا، د هغې غلامان او متحدین یې غواړي چې تاسو د خپل ځان، خپلو ښځو او خپلو ماشومانو وینه توی کړئ، څو د بعثي علوي مجرم حکومت نسکور شي او پر ځای یې د امریکا متحد او د اسرائیلو ساتونکی حکومت جوړ شي، چې د اسلامي شریعت څخه سرغړونه وکړي او د نړیوالو قوانینو پر ورانديې سر ټیټ کړي.

اې د شام د اسلام زمریانو! سره راټول شئ، متحد شئ، له یو بل سره موافقه وکړئ، او ژمنه وکړئ چې تر هغه به نه وسلې پر ځمکه ږدئ او نه به خپلې مورچې پرېږدئ، څو د رباط او جهاد په خاوره، یعنې شام کې، داسې یو اسلامي حکومت جوړ نه شي چې د خلافت د بېرته راګرځولو لپاره هڅه وکړي، عدالت ټینګ کړي، فساد له بېخه وباسي، شورا لازمه کړي او د فلسطين په ګډون د مسلمانانو د هرې اشغال شوې خاورې د بېرته ترلاسه کولو لپاره مبارزه وکړي. د همدې ستر هدف لپاره متحد شئ، ځکه د همدې له لارې به تاسو په آخرت کې د خپل رب رضا او په دنیا کې د هغه مرسته ترلاسه کړئ. بېشکه ستاسو، ستاسو د ماشومانو او ښځو پاکه وینه تر دې ډېره لوړه، ارزښتمنه او ګرانه ده چې د امریکا او لوېدیځ د سیاسي سوداګریو په بازارونو کې یې بیه وټاکل شي او لیلامه کړل شي.

اې د شام د اسلام زمریانو! د همدې ستر هدف پر لور متحد شئ، او له ډلو، تنظیمي تړاوونو او تنظیمي تعصبونو څخه ځان وساتئ. د اسلام تر ستر بیرغ لاندې راټول شئ، هغه بیرغ چې موږ یې د الله تعالی د دې وینا تر سیوري لاندې سره یو کړي یو:

﴿الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ الطَّاغُوْتِ فَقَاتِلُوْٓا اَوْلِيَآءَ الشَّيْطٰنِ ۚ اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا ۝﴾(النساء:٧٦)

«کومو خلکو چې د ایمان لاره غوره کړې ده، هغوی د الله په لاره کې جنګیږي. او کومو کسانو چې د کفر لاره غوره کړې ده، هغوی د طاغوت (شیطان) په لاره کې جنګیږي، نو د شیطان له ملګرو سره وجنګیږئ لږ باور ولرئ چې د شیطان دسیسې په حقیقت کې ډېرې کمزورې دي.»

له بده مرغه، موږ مجبور یو چې ووایو د دې د امت د حکیم نصیحت ته پام ونه شو. په وروستیو کلونو کې د شام جبهه د نړیوالو قدرتونو د سیالۍ ډګر وګرځېده، د مجاهدینو ترمنځ خپلمنځي جګړه وشوه، د اسلامي نړۍ منافقینو خپل لوبې وکړې، له وخته مخکې د واک ترلاسه کولو هڅه وشوه، او پایله دا شوه چې نن شام د صفوي رافضي شر او فساد او د بشار الاسد له ناوړه کړنو څخه خو آزاد شو، خو هلته نه مجاهدینو ته ځواک په برخه شو، نه د مخلصینو ژوند او مال خوندي شو او نه اسلامي شریعت نافذ شو.

نن چې په شام کې څه روان دي، هر هوښیار انسان یې ویني. د همدې حالاتو د بیان لپاره، په شام کې د مجاهدینو مشهور عالم، شیخ سامي بن محمود العریدي حفظه الله، د «عجل بني إسرائیل في بلاد المسلمین» په نوم یو کتابچه لیکلې ده. په دې کتابچه کې هغه په شام کې د ځینو مهمو او حساسو پېښو یادونه کړې او هڅه یې کړې ده چې وښیي، لکه څنګه چې بني اسرائیلو له نجات وروسته خوسکی خپل معبود وګرځاوه، همداسې اوسنی شامي حکومت هم د رافضي فتنې له پای ته رسېدو وروسته د دین په برخه کې په خورا خطرناکو منکراتو اخته کېږي. د پښتو ژبې د لوستونکو لپاره موږ دا کتابچه د «د حطین اداري» له خوا ژباړه او خپروو. د دې موخه دا ده چې د برصغیر، په ځانګړي ډول د پاکستان، په محاذ کې بوخت مجاهدین د شام له تجربې څخه عبرت واخلي، د خپل جهاد لوری سم وساتي، د هر ډول انحراف د مخنیوي لپاره بیدار واوسي، د نړیوالو قدرتونو او د اسلامي نړۍ د منافقینو د راضي کولو له فکر څخه لاس واخلي، د شخصي او تنظیمي واک د هدف ګرځولو له لارې د مجاهدینو د ځواک له ماتولو څخه ځان وساتي، او د اسلامي شریعت د واکمنۍ له هدف څخه نه د یوې شېبې لپاره او نه هم د یوه انچ په اندازه د انحراف فکر په زړه کې راولي. او په مجاهدینو کې دې دا پوهاوی عام شي چې څنګه هر جهادي تحریک د لوېدیځ په لاس د انحراف پر لاره روانېږي.

دا هم باید ووایو چې د دې کتابچې لیکوال، شیخ ابو محمود سامي العریدي حفظه الله، د اردن له مشهورو دیني عالمانو څخه دی. په ۱۹۷۳ کال کې زېږېدلی او په اردن کې یې د دیني علومو د دوکتورا سند ترلاسه کړی دی. هغه په اردن کې د حق ویلو په جرم درې ځله بندي شوی، وروسته د شام د انقلاب په پیل کې هلته لاړو او له مجاهدینو سره یوځای شو؛ او له ۲۰۱۳ څخه تر ۲۰۱٦ کال پورې د «جبهة النصره» عمومي شرعي مسئول و. خو وروسته، د انحراف په پړاو کې، اړ شو چې له دې ډلې جلا شي او په شام کې په القاعده پورې تړلې ډلې «حراس الدین» سره یوځای شو، او د کلونو لپاره یې د هغوی د عمومي شرعي مسئول په توګه دنده ترسره کړه. نن ورځ هغه د القاعدې تنظیم له مرکزي مشرانو څخه شمېرل کېږي.

هغه کسان چې د لیکوال په وینا انحراف یې کړی، نن په شام کې واکمن دي، خو دا رباني عالم ـ نحسبه کذالک، لا هم د شام په خاوره کې په پټه ژوند کولو ته اړ دی. الله تعالی دې هغه د ټولو کافرانو او منافقانو له شر څخه وساتي. آمین.

الله تعالی دې په هره سيمه کې مجاهدين د اسلام د دښمنانو پر وړاندې بريالي کړي، مسلمانان دې په عزت او لوړتيا ونازوي، او هغوی ته دې داسې حکومت په نصيب کړي چې دين او شريعت پکې قائم کړي. آمين.

**ادارهٔ حطين**

**ربيع الاول ۱۴۴۸ هـ.ق**

---

# عجل بني إسرائيل في بلاد المسلمين

**الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على عبده ورسوله محمد والأنبياء والرسل أجمعين، أما بعد:**

رسول الله ﷺ خپل امت له مشرکانو سره له ورته والي (مشابهت) او د هغوی د لارو له پیروۍ څخه په کلکه منع کړی دی. ابو داود له ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت کوي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

«من تشبَّهَ بقومٍ فَهوَ منْهم ».

«څوک چې له کوم قوم سره ځان ورته کړي، نو هغه له هغو څخه دی».

همدارنګه نبي کريم ﷺ په ځینو احادیثو کې په ځانګړي ډول له اهل کتابو سره له ورته والي او د هغوی د لارو له پیروۍ څخه منع کړې ده؛ په «صحیحینو» کې له ابو سعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: «لَتَتَّبِعُنَّ سَنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، شِبْراً بِشِبْرٍ، وَذِرَاعاً بِذِرَاعٍ، حَتَّى لَوْ دَخَلُوا جُحْرَ ضَبٍّ لَتَبِعْتُمُوهُمْ» قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، اليَهُودَ وَالنَّصَارَى؟ قَالَ: «فَمَنْ ؟!» .

«تاسې به هرو مرو د خپلو مخکینیو خلکو په لارو لاړ شئ، ګام پر ګام او لوېشت پر لوېشت، تر دې چې که هغوی د سمسارې سوري ته هم ننوځي، تاسې به ورپسې ننوځئ.» موږ وویل: اې د الله رسوله! ایا مطلب دې یهود او نصارا دي؟ وېې فرمایل: «نو بل څوک؟».

ترمذي له عمرو بن شعیب څخه، هغه له خپل پلار او هغه له خپل نیکه څخه روایت کړی چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

«ليسَ منَّا من تشبَّهَ بغيرنا، لاَ تشبَّهوا باليَهودِ ولاَ بالنَّصارى، فإنَّ تسليمَ اليَهودِ الإشارةُ بالأصابعِ، وتسليمَ النَّصارى الإشارةُ بالأَكُفِّ» .

«هغه څوک له موږ څخه نه دی چې له موږ پرته له نورو سره ځان ورته کوي، له یهودو او نصاراوو سره ځان مه ورته کوئ، ځکه د یهودو سلام په ګوتو سره اشاره ده او د نصاراوو سلام په ورغوو سره اشاره ده».

او دا دی موږ نن ورځ دغه بلا وینو چې موږ نبي کریم ﷺ ورڅخه منع کړي وو، کوم چې د شریعت په ښکاره مسائلو او په دین کې په ضروري پوهه کې واقع کیږي. په داسې ښار کې چې

خلک بايد له دې څخه تر ټولو لرې وای، او له داسې خلکو څخه يې وينو، چې هغوی په دې بلا ډېر ښه خبر دي، دوی به شپه او ورځ نور خلک له دې بلا څخه وېرول او په دې اړه ددوی ويناوې او ليکنې شته ... له الله تعالی څخه د عافيت او سلامتيا غوښتنه کوو.

دا دی موږ وينو چې د بني اسرائيلو خوسکی په هغه خاوره کې را ښکاره شوی، چې د شهيدانو په وينو ازاده شوې ترڅو په کې د الله په شريعت حکم وشي او يو داسې مسلمان دولت رامنځته شي چې دين قائم کړي، عدل خپور کړي، او حق ته بريا او باطل ته ماتې ورکړي؛ خو دا دی دوی د بني اسرائيلو په لارو روان دي او د هغوی پيروي کوي.

د بني اسرائيلو قوم وروسته له هغه چې الله تعالی د فرعون او د هغه له قوم څخه وژغورل، خوسکی يې (د معبود په توګه) غوره کړ - لکه څنګه چې الله تعالی په خپل کتاب کې په ډېرو ځايونو کې د هغوی په اړه خبر ورکړی دی - هغوی د الله تعالی د نعمت ناشکري وکړه او له دوی څخه هغو کسانو چې ګمراه شوي وو، له الله تعالی پرته خوسکی خپل معبود وګرځاوه، الله تعالی فرمايي:

وَإِذۡ نَجَّيۡنَٰكُم مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ يَسُومُونَكُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ يُذَبِّحُونَ أَبۡنَآءَكُمۡ وَيَسۡتَحۡيُونَ نِسَآءَكُمۡۚ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَآءٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَظِيمٞ ٤٩ وَإِذۡ فَرَقۡنَا بِكُمُ ٱلۡبَحۡرَ فَأَنجَيۡنَٰكُمۡ وَأَغۡرَقۡنَآ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ ٥٠ وَإِذۡ وَٰعَدۡنَا مُوسَىٰٓ أَرۡبَعِينَ لَيۡلَةٗ ثُمَّ ٱتَّخَذۡتُمُ ٱلۡعِجۡلَ مِنۢ بَعۡدِهِۦ وَأَنتُمۡ ظَٰلِمُونَ ٥١ [سُورَةُ البَقَرَةِ]

«او هغه وخت (ياد کړئ) چې موږ تاسې ته د فرعون له غلامۍ څخه نجات درکړ. هغو تاسې په سخت عذاب کې اخته کړي واست، ستاسې زامن يې حلالول او ستاسې لوڼي يې ژوندۍ ساتلې. او په دې حالت کې ستاسې د رب له لوري پر تاسې لوی ازمېښت ؤ. او هغه وخت (ياد کړئ) چې موږ د سمندر په څيرولو ستاسې لپاره لاره جوړه کړه، بيا مو له هغه څخه تاسې روغ رمټ پوري ايستلاست، بيا مو په هغه کې ستاسې تر نظر لاندې فرعونيان غرق کړل. او هغه وخت (ياد کړئ) چې کله موږ موسی (عليه السلام) د څلوېښتو شپو او ورځو په ژمنه راوغوښت، نو تاسې د هغه په شا پسې خوسکی په خدايۍ ونيو. په هغه وخت کې تاسې له حده ډېر زيات تېری کړی ؤ.»

او دا د نن ورځې د خلکو او هيوادونو حال دی؛ الله تعالی دوی په هغه څه ونازول چې بني اسرائيل يې په نازولي وو، نو په خپل فضل او رحمت سره يې د دوی د خاورې فرعون هلاک کړ، تر څو دوی امتحان کړي او وګوري چې دوی څنګه عمل کوي؟ دوی خو له الله تعالی سره کلکې ژمنې کړې وې چې د هغه دين به قائموي، د هغه په شريعت به پريکړې کوي او د خپلو شهيدانو ورونو له وينو سره به خيانت نه کوي. خو کله چې الله تعالی هيواد ورته فتحه کړ او دوی يې د ددې

خاورې له فرعونه خلاص کړل، نو په ناڅاپي ډول دوی ګام پر ګام د بني اسرائیلو په لاره روان شول؛ د الله د نعمت ناشکري یې وکړه او داسې قوانین او معاهدې یې غوره کړې چې د رب العالمین له دین سره په ټکر کې وې، نو ځکه یې حال کټ مټ د بني اسرائیلو په څېر شو.

د مسلمانانو په خاورو کې د خوسکي له عبادت سره ورته والی او مشابهت په مختلفو بڼو راڅرګند شوی دی، چې موږ په دې پاڼو کې د هغه درې بڼې یادوو:

## لومړی بڼه: وضعي قوانين

د وضعي قوانینو حاکم ګرځول ښکاره کفر دی، لکه څنګه چې شیخ محمد بن ابراهیم آل الشیخ رحمه الله په خپله رساله «تحکیم القوانین» کې فرمایي:

«وإن من الكفر الأكبر المستبين، تنزيل القانون اللعين، منزلة ما نزل به الروح الأمين، على قلب محمد ﷺ، ليكون من المنذرين».

«بې شکه له تر ټولو ښکاره کفر څخه دادي، چې دغه ملعون قانون ته د هغه قانون هغه منزله ورکړل شي، چې روح الأمین یعني جبریل علیه السلام د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر سینه را نازل کړی دی، تر څو هغه صلی الله علیه وسلم له منذرینو «وېروونکو» څخه واوسي».

او دا حکم د هغو خلکو په منځ کې د هیڅ اختلاف یا بحث ځای نه دی چې نن ورځ په وضعي قوانینو حکومت کوي؛ ځکه پخوا دوی په دې حکم باندې د خلکو تکفیر کاوه او هغه خلک یې کافران ګڼل چې په وضعي قانون به یې پرېکړې کولې او هغوی یې د طاغوت لښکر ګڼل. دا مسئله د هغوی په وړاندې د لمر د رڼا په څېر واضحه ده، لکه څنګه چې علامه احمد شاکر رحمه الله په «حكم الجاهلية» کې فرمايي:

«إن الأمر في هذه القوانين الوضعية واضحة وضوح الشمس، هي كفر بواح، لا خفاء فيه ولا مداورة، ولا عذر لأحد ممن ينتسب للإسلام - كائناً من كان - في العمل بها أو الخضوع لها أو إقرارها، فليحذر امرؤ لنفسه، وكل امرئ حسيب نفسه. ألا فليصدع العلماء بالحق غير هائبين، وليبلغوا ما أمروا بتبليغه غير موانين ولا مقصرين! سيقول غبي عبيد هذا «واليا سق العمري» وناصروه أني جامد، وأني رجعي، وما إلى ذلك من الأقاويل، ألا فليقولوا ما شاؤوا، فما عبئت يوماً ما بما يقال عني، ولكني قلت ما يجب أن أقول!».

«بې شکه په دې وضعي قوانینو کې امر د لمر د رڼا غوندې روښانه او ښکاره دی، دا کفر بواح دی،

په دې کې هيڅ پټوالی او ابهام نشته او د هيڅ داسې چا له پاره عذر نشته چې ځان اسلام ته منسوبوي – که هر څوک وي – چې په دې عمل وکړي، يا ورته غاړه کېږدي او يا يې تائيد کړي. نو هر انسان بايد پر خپل ځان ووېرېږي او هر سړی په خپل ځان پوه دی». خبردار ...! علماء بايد د حق خبره په زړورتيا سره پرته له وېرې ووايي او هغه څه ورسوي چې په رسولو يې امر شوي دي پرته له دې چې له چا ويره ولري او يا تقصير وکړي! زما د دې خبرو په اړه به د زمانې سيکولران او دهغوی ملاتړي ووايي چې زه جامد او شاته پاتې يم او داسې نورې خبرې به کوي، خو هغوی چې هر څه غواړي ويې دې وايي، زه د هغوی خبرو ته هيڅ ارزښت نه ورکوم، خو ما هغه څه وويل چې ويل يې پر ما واجب وو!».

او لکه څنگه چې ډاکټر عبدالله عزام رحمه الله په «العقيدة وأثرها في بناء الجيل» کې فرمايي:

«وبإمكاننا أن نقول: كل من رفض التحاكم إلى شريعة الله، أو فضل أي تشريع على تشريع الله، أو أشرك مع شرع الله شرائع أخرى من وضع البشر وأهوائهم، وكل من رضي أن يستبدل بشرع الله قانوناً آخر فقد خرج من حوزة هذا الدين، وألقى ربقة الإسلام من عنقه، ورضي لنفسه أن يخرج من هذه الملة كافراً. يقول الأستاذ سيد قطب رحمه الله: وإن الذين يحكمون على عابد الوثن بالشرك ولا يحكمون على المتحاكم إلى الطاغوت بالشرك ويتحرجون من هذه ولا يتحرجون من تلك... إن هؤلاء لا يقرؤون القرآن، ولا يعرفون طبيعة هذا الدين... فليقرؤوا القرآن كما أنزله الله وليأخذوا قول الله عز وجل: ﴿وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ﴾» .

«او موږ کولی شو ووايو: هر هغه څوک چې د الله د شريعت په ځای بل قانون ته مراجعه کول غوره وگڼي، يا د الله پر شريعت باندې کوم بل بشري قانون او د هغوی خواهشاتو ته فضيلت ورکړي او هر هغه څوک چې د الله د شريعت پر ځای بل قانون د قانون په توگه ومني، نو هغه په بشپړ ډول د دې دين له دائرې څخه وتلی دی، د اسلام رسۍ يې له غاړې غورځولې ده او د خپل ځان لپاره يې دا غوره کړې چې له دې امت څخه کافر ووځي.» استاد سيد قطب رحمه الله فرمايي چې: «بې شکه هغه کسان چې پر بت پرست باندې د شرک حکم کوي او پر هغه چا د شرک حکم نه کوي، چې په قضا او پرېکړو کې طاغوت ته مراجعه کوي، يعني له لومړي کار څخه ځان ساتي او له دوهم څخه نه، دغه ډول خلک نه قرآن کريم لولي او نه هم ددې دين په اصل حقيقت پوهېږي. دوی ته په کار ده، چې قرآن کريم هغسې ولولي لکه څنگه چې الله نازل کړی دی او د الله دا قول دې په کلکه ونيسي چې فرمايي:

وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ(الأنعام:١٢١)

خو که تاسې د هغوی اطاعت ومانه، نو بېله شکه به تاسې مشرکان ياست».

نو د وضعي قوانينو خوسکی داسې وگرځيد لکه څنگه چې بني اسرائيلو د خوسکي عبادت کړی

و، له الله تعالی څخه عافیت او سلامتیا غواړو.

## دویمه بڼه: د ملي یووالي خوسکی

خو نن ورځ خبره یوازې د وضعي قوانینو تر خوسکي پورې محدوده پاتې نه شوه، بلکې دا دی د وطنپالنې او د وطن د بندګۍ خوسکی هم خپور او حاکم شو.

نو وطن یو بت، طاغوت او داسې خوسکی وګرځید چې د الله تعالی پر ځای یې عبادت کیږي لکه څنګه چې د بني اسرائیلو د خوسکي عبادت شوی و؛ د ملي یووالي او وطن ته د منسوبیدو په خاطر هغه حرام شیان حلال ګڼل کیږي چې په حرمت یې اجماع شوې وي او هغه حلال شیان حرام ګڼل کیږي چې په حلال والي یې اجماع شوې وي. او پر مجدد امام اسامه بن لادن دې د الله رحمت وي چې د ملي حکومتونو د پروژو حقیقت یې ښکاره کړ او په خپلو لاربښوونو او پیغامونو کې یې پر دې مسئله تمرکز وکړ، هغه په «السبیل لإحباط المؤامرات» کې وفرمایل:

«ومحور آخر تسعى أمريكا من خلاله مع وكلائها في المنطقة لتشكيل حكومة جديدة موالية لها كحكومات دول الخليج بدلاً عن حكومة المالكي، تسمى باسم حكومة الوحدة الوطنية أيضاً، وهذا الاسم يستهوي كثيراً من الناس وخاصة الذين تعبوا من الحرب، فيجب على المسلمين أن يعلموا حقيقة هذه الحكومة قبل الترحيب بها، فحكومة الوحدة الوطنية تعني أن يلتقي جميع أطياف الشعب على تعظيم الوطن تعظيماً يفوق تعظيمهم لأي مقدس عندهم، أي أن الوطن له الكلمة العليا فهو يقر ولا يعلى عليه، فتلتقي الجميع في وسط الطريق ويرضون بأنصاف الحلول، ما يعني أن يتخلى المعنيون وبقية الأطراف الأخرى عن بعض مبادئهم، ويتخلى المسلمون أيضاً عن بعض دينهم، ومقتضى هذا الأمر أن يرضى المسلم بتحكم ومشاركة التشريعات الوضعية للشيوعية الإسلامية في التحليل والتحريم، هذه المشاركة هي شرك أكبر خرج من الملة مخلد لصاحبه في النار، نعوذ بالله منها. فباسم الوطن والوطنية تآمرت دول الخليج وأمريكا لتستبيح العراق ليعاني أهله ما يعانون من ويلات، كل ذلك حتى لا يشطب الوطن من الخريطة كما زعموا، والحقيقة هي خوفهم من أن يُشطبوا هم لا الوطن، فهذا حليفهم السابق صدام قد شُطب ولكن العراق لم يشطب».

«او بل محور چې امریکا یې د خپلو دلالانو په واسطه په سیمه کې د ترلاسه کولو هڅه کوي، د نوي وفادار حکومت جوړول دي لکه د خلیج د هیوادونو حکومتونه، چې د مالکي حکومت پر ځای به راځي، دا حکومت به د ملي یووالي د حکومت په نوم هم یادیږي، او دا نوم د ډیری هغو خلکو په زړونو کې ځای پیدا کوي چې له جګړې څخه ستړي شوي دي؛ نو پر مسلمانانو واجب ده چې د داسې حکومت هرکلي ته تر دریدو وړاندې د هغه په حقیقت ځان پوه کړي، ځکه د ملي یووالي حکومت په

دې مانا دی چې د ولس ټول قشرونه د وطن پر تعظيم باندې سره يو ځای شي، داسې تعظيم چې د هغوی په وړاندې د بل هر مقدس شي تر تعظيم لوړ وي، يعني دا چې وطن تر ټولو پورته کلمه وي او تر هغې لوړه بله کلمه نه وي، نو ځکه ټول په نيمه لاره کې سره ويني او په نيمګړو حل لارو راضي کيږي، چې په دې کار سره ځينې لوري له خپلو ځينو اصولو تيريږي او مسلمانان هم د خپل دين له يو څه برخې څخه تيريږي. د دې کار تقاضا دا ده چې مسلمان د وضعي تشريعاتو په حاکمولو او د تحليل او تحريم په چاره کې د اسلامي شريعت سره په شريکولو راضي شي او دا شراکت د ملت له دائرې څخه ايستونکی لوی شرک دی چې خپل خاوند جهنم ته بيايي، له دې څخه په الله پناه غواړو. نو د وطن او ملي يووالي په نوم د خليج هيوادونو د امريکا ملاتړ وکړ ترڅو د عراق هيواد تباه کړي او خلک يې له هغو مصيبتونو سره مخ شي چې نن ورځ ورسره لاس او ګريوان دي؛ دا ټول د دې لپاره و چې وطن له نقشې څخه ليرې نشي لکه څنګه چې هغوی ادعا کوله، خو حقيقت دا و چې د دوی ويره د خپلو چوکيو له لاسه ورکول و نه د وطن، ځکه د دوی پخوانی ملګری صدام حسين له منځه لاړ خو عراق له نقشې څخه پاک نه شو».

او مجدد امام اسامه بن لادن په «النزال النزال يا أبطال الصومال» کې فرمايي:

«فإلى إخواني المسلمين الصابرين المرابطين في الصومال المجاهد:

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

إن الحرب الدائرة فوق أرضكم خلال هذه السنوات، هي حرب بين الإسلام والصليبية العالمية، فحلف الأطلسي أوكل هذه المهمة لأثيوبيا، وهؤلاء وموكلوهم لما أرهقهم جهادكم المبارك، لجأوا إلى المكر والخداع، وهذا دأبهم هو الرئيس السابق عبد الله يوسف. ولما لم تنطل عليكم حيلة «الكرزايات» القديمة في المنطقة، قاموا بتبديله وجاؤوا بنسخة أخرى معدلة، كنسخة سياف ورباني وأحمد شاه مسعود. فقد كانوا من قادة المجاهدين الأفغان، ثم ارتدوا على أعقابهم وساعد حلفهم أمريكا لإسقاط الإمارة الإسلامية في أفغانستان. وكذلك حال شيخ شريف، فقد كان رئيسا للمحاكم الإسلامية ومع المجاهدين، ولكنه نتيجة لإغراءات وعروض من المبعوثة الأمريكية في كينيا، غير وبدل وارتد على عقبيه، ووافق على إشراك القوانين الوضعية الكفرية مع الشريعة الإسلامية لإقامة حكومة وحدة وطنية، وهذا الإشراك هو الشرك الأكبر المخرج من الملة. وكيف يصدق العقلاء أن أعداء الأمس على أساس ديني يصبحون أولياء اليوم، فهذا لا يكون إلا بتخلي أحد الطرفين عن دينه، فانظروا من الذي تخلى: هل هو شيخ شريف أم أمريكا؟ وتدبروا قول الله تعالى: ﴿إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَىٰ أَدْبَارِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى ۙ الشَّيْطَانُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَىٰ لَهُمْ ○ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لِلَّذِينَ كَرِهُوا مَا نَزَّلَ اللَّهُ سَنُطِيعُكُمْ فِي بَعْضِ الْأَمْرِ ۖ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ ○ فَكَيْفَ إِذَا تَوَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَارَهُمْ ○ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ اتَّبَعُوا مَا أَسْخَطَ اللَّهَ وَكَرِهُوا رِضْوَانَهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ﴾ [محمد: ٢٨-٢٥]،

وقد قال رسول الله ﷺ: «ما ذئبان جائعان أرسلا في غنم بأفسد لها من حرص المرء عَلَى الْمَالِ وَالشَّرَفِ لِدِينِهِ ». فكم أفسد الحرص على المال والشرف والجاه قياداتنا! فمثل هؤلاء الرؤساء هم وكلاء أعدائنا لا تنعقد لهم ولاية أصلاً، فشيخ شريف وهذا حاله فيجب خلعه وقتاله. وقد أجمع علماء الإسلام، على أن الولاية لا تنعقد لكافر، فإذا طرأ عليه الكفر سقطت ولايته، فوجب القيام عليه بالسلاح. قال القاضي عياض رحمه الله: «أجمع العلماء على أن الإمامة لا تنعقد لكافر، وعلى أنه لو طرأ عليه الكفر انعزل».

«په صومال کې د جهاد په ډګر کې صبر کوونکو او د سختۍ ګالوونکو زما مسلمانو وروڼو!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

بې شکه دا جګړه چې ستاسې په خاوره کې روانه ده، د اسلام او نړیوال صلیبي ښکېلاک ترمنځ جګړه ده، ناټو دا دنده ایتوپیا ته وسپارله او هغوی او د هغو ملګري ستاسې د مبارک جهاد له امله سټړي شول، نو مکر او فریب ته یې پناه یووړه او دا په اسلامي خاورو کې د دوی طریقه ده؛ نو هغوی پر تاسې باندې ستاسې د پوستکي یو سړی مسلط کړ خو هغه د هغوی پر ملت دی او هغه پخوانی ولسمشر عبد الله یوسف دی. او کله چې ستاسې په وراندې په سیمه کې د زړو همکارانو (الکرزایات) د مکر طریقې کار ورنکړ، نو هغوی د هغې په بدلولو لاس پورې کړ او بله بدله شوې نسخه یې راوړه، لکه سیاف، رباني او احمد شاه مسعود. دوی د افغان مجاهدینو له مشرانو څخه وو، خو وروسته پر شا وګرځېدل او د افغانستان د اسلامي امارت د پرځولو لپاره یې له خپل متحد امریکا سره مرسته وکړه. او همداسې د شیخ شریف حال دی، هغه د اسلامي محکمو مشر او له مجاهدینو سره و، خو په کینیا کې د امریکایي استازې د لالچونو او وراندیزونو په نتیجه کې بدل شو، تغییر یې وکړ او پر شا لاړ؛ هغه د ملي یووالي د حکومت د جوړولو لپاره له اسلامي شریعت سره د کفري وضعي قوانینو پر شریکولو هوکړه وکړه او دا شراکت د ملت له دایرې څخه ایستونکی لوی شرک دی. نو هوښیار خلک به څنګه دا تصدیق وکړي چې د پرون ورځې مذهبي دښمنان نن د دین پر اساس دوستان کیږي؟ دا کار د دواړو لوریو څخه د یو لوري له دین څخه د تیریدلو پرته بل ډول نشي کیدای؛ نو وګورئ چې څوک له خپل دین څخه تېر شوي دي: ایا شیخ شریف که امریکا؟ او د الله تعالی دغه قول ته پام وکړئ چې فرمایي:

حقیقت دا دی کوم کسان چې د هدایت له روښانه کېدو څخه وروسته په شا وګرځېدل، د هغو لپاره شیطان دغه کړنلاره اسانه کړې ده او د درواغجنو هیلو لړۍ یې د هغو لپاره اوږده کړې ده. له همدې امله دوی د الله د نازل کړي دین بد ګڼونکو ته وویل چې په ځینو چارو کې به موږ ستاسې (حُکم) منو. الله د دوی په دغو پټو خبرو ښه پوهیږي.

نو په هغه وخت کې به څه حال وي چې پرښتې د دوی ساګاني اخلي او پر مخونو او شاګانو باندې یې

وهي؟ دا به د همدې لپاره وي چې دوی د هغې کړنلارې پیروي وکړه چې الله پرې خپه کیږي او د هغه د رضا لاره غوره کول یې خوښ نه کړل. په همدې اساس یې د هغو ټولو عملونه بابېزه کړل. او رسول الله ﷺ فرمايي:

«دوه وږي لیوان چې د پسونو په رمه کې خوشې کړای شي، هغومره تاوان نه رسوي لکه د یو سړي د مال او شرف حرص چې یې د هغه دین ته رسوي».

نو د مال، شرف او د مشرۍ حرص د دغو مشرانو دین څومره خراب کړ! د دغو ولسمشرانو او زمونږ د دښمنانو د دلالانو لپاره هیڅکله په اصل کې شرعي واکمني نه ثابتیږي؛ د شیخ شریف حال همداسې دی، نو د هغه له واک څخه لیرې کول او ورسره جګړه کول واجب دي او د اسلام د علماوو په دې اجماع ده چې واکمني د کافر لپاره نه ثابتیږي او که په واکمن باندې کفر راشي نو د هغه واکمني ساقطیږي او په وسلې سره د هغه په وړاندې راپاڅېدل واجب دي. قاضي عیاض رحمه الله فرمايي: «علماوو اجماع کړې ده چې امامت د کافر لپاره نه ثابتیږي، او که په هغه باندې کفر راشي نو هغه له واکه لیرې کیږي».

او شیخ عطیة الله اللیبي رحمه الله په «مجموع الأعمال الکاملة» کې فرمايي:

«لا نقف في جانب من ينادي بـ«الوحدة الوطنية» وعموم «الفكرة الوطنية» لا في فلسطين، ولا في غيرها. بل نعتقد أن هذه الفكرة فكرة غير إسلامية، مصادمة للدين الحنيف، الذي مبنى الاجتماع فيه على الدين والرابطة الدينية والأخوة في الله وفي دين الله الإسلام. وهذه الفكرة -كما سبق الإشارة- هي من الأفكار الواردة على أمتنا من ثقافات الغرب وفلسفات الشرق، ونحن أكرمنا الله تعالى بالإسلام والإيمان فلم نبتغي في الإسلام سنة الجاهلية؟ ونحن قوم أعزنا الله بالإسلام فمهما طلبنا العز في غيره أذلنا الله. الفكرة الوطنية الخبيثة مبناها على اجتماع الناس على المواطنة، أي على كون كلهم مواطنين لنفس البلد ولنفس الدولة، لهم نفس الحقوق وعليهم نفس الواجبات بناء على هذه الرابطة الوطنية، كلهم متساوون، لا فرق بينهم بدين ولا عدالة ولا غير ذلك. وهذا لا شك أنه باطل مناقض لدين الإسلام الذي جعل العلاقة بين الناس مبنية على الدين والتوحيد والإيمان بالله تعالى وبرسوله ﷺ وبما جاء به، وأمر بموالاة المؤمنين ومحبتهم، وأمر ببغض الكافرين ومعاداتهم، وجعل لكلٍ أحكامًا، وجعل الرابطة بين المؤمنين هي الأخوة في الإسلام والإيمان، وجعل التفاضل بينهم بالتقوى والعمل الصالح» .

«مونږ د هغو کسانو په څنګ کې نه درېږو چې د ملي یووالي غږ پورته کوي او د ملي فکر عامول غواړي، نه په فلسطین کې او نه له هغه پرته بل ځای کې، بلکې مونږ باور لرو چې دا فکر یو غیر اسلامي فکر دی او له حنیف دین سره په ټکر کې دی، کوم چې د غونډېدو اساس یې یوازې پر دین، دیني تړاو او د الله په لار کې د وروولۍ او د اسلام پر دین ولاړ دی. دا فکر – لکه څنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه

– له هغو فکرونو څخه دی چې زموږ امت ته د لویدیځ له کلتورونو او د شرک له فلسفو څخه رارسیدلی دی، په داسې حال کې چې الله تعالی موږ ته په اسلام او ایمان سره عزت را په برخه کړی، نو ولې موږ به په اسلام کې د جاهلیت لاره ولټوو؟ موږ داسې قوم یو چې الله په اسلام سره عزتمند کړي یو، نو که په هر څه کې پرته له اسلام څخه د عزت غوښتنه وکړو، الله به موږ ذلیل کړي. دا خبیثه ملي مفکوره خپل اساس پر دې بنا کوي چې خلک د تابعیت پر بنسټ سره یو ځای کړي، یعنې دا چې دوی ټول د یو هیواد وګړي او د یو دولت اوسیدونکي وګڼل شي؛ د دې رابطې پر اساس به دوی ټول یو شان حقوق لري او یو شان دندې به پرې لازمې وي، ټول به په کې مساوي وي، د دوی ترمنځ نه د دین فرق شته او نه د عدالت او نه د بل څه. او په دې کې هیڅ شک نشته چې دا یو باطل فکر دی او د اسلام د سپېڅلي دین خلاف دی، کوم چې د خلکو ترمنځ اړیکه د دین، توحید، پر الله تعالی او دهغه پر رسول ﷺ باندې د ایمان او د هغه څه پر اساس ګرځولې چې هغه راوړي دي او د مؤمنانو د دوستۍ او له هغوی سره د محبت کولو امر کوي او د کافرانو د بغض او له هغوی سره د دښمنۍ امر یې کړی دی، د هر یوه لپاره یې جلا احکام ګرځولي، د مؤمنانو ترمنځ یې اړیکه یوازې په اسلام او ایمان کې ورورولي ګرځولې او د هغوی ترمنځ یې د غوراوي معیار یوازې تقوا او نېک عمل ګرځولی دی.»

نو په دې توګه د بشري وضعي قوانینو د خوسکي داسې عبادت وشو، لکه څنګه چې بني اسرائیلو د خوسکي عبادت کړی و. له الله څخه د عافیت او سلامتیا غوښتنه کوو.

## دریمه بنه: د ملګرو ملتونو د تړونونو او قوانینو د منلو او هغو ته د مراجعې خوسکی

دا خبیثه بڼه په دې زمانه کې له الله پرته د بل چا د بندګۍ تر ټولو ناوړه بڼه ده؛ ځکه دا مجرمه اداره په هیڅ شي باندې داسې نه سره یو ځای کیږي او نه پکې یووالی کوي لکه د الله، د هغه د شریعت، د هغه د رسول او د هغه د دوستانو په وړاندې په جګړه چې سره را یو ځای کیږي. دا اداره په خپلو کې سره متحده ده، خو له شریعت سره په جګړه کې ښکېله ده.

هغه ناوړه او خبیث رول چې دا خبیثه اداره یې ترسره کوي، د هر سترګور انسان لپاره د لمر په څېر روښانه او ښکاره دی، خو هغه څوک ور څخه ناخبره پاتې کیږي چې الله یې بصیرت ړوند کړی وي. پر مجدد امام اسامه بن لادن دې د الله رحمت وي چې دا حقیقت یې پخپل کتاب «حقیقة الصراع: أولی حروب القرن» کې افشا کړی او فرمایي:

«إن الذين يحيلون مآسينا اليوم، ويريدون أن يحلوها في الأمم المتحدة، إنما هم منافقون يخادعون الله ورسوله ويخادعون الذين آمنوا. وهل مآسينا إلا من الأمم المتحدة! من الذي أصدر قرار التقسيم عام ١٩٤٧م لفلسطين، أباح بلاد الإسلام لليهود؟ الأمم المتحدة بقرارها في ٤٧م. فهؤلاء الذين يزعمون بأنهم زعماء للعرب وما زالوا في الأمم المتحدة هم كفروا بما أُنزل على محمد ﷺ، الذين يحيلون الأمور إلى الشرعية الدولية هم كفروا بشرعية الكتاب الكريم وسنة المصطفى ﷺ. فهذه هي الأمم المتحدة التي عانينا منها ما عانينا فلا يذهب إليها مسلم بحال من الأحوال، ولا يذهب إليها عاقل وإنما هي أداة من أدوات الجريمة، نُذبح في كل يوم ولا تحرك ساكنًا. إخواننا في كشمير منذ أكثر من ٥٠ عاما يسامون سوء العذاب، يذبحون ويقتلون ويعتدى على أعراضهم ودمائهم ودورهم، ولا تحرك ساكنًا الأمم المتحدة. واليوم دون أن يثبت أي دليل، تسوق الأمم المتحدة القرارات المؤيدة لأمريكا الظالمة الجابرة المتجبرة على هؤلاء المستضعفين الذين خرجوا من حرب ضروس على يد الاتحاد السوفيتي. ولننظر إلى حرب الشيشان الثانية التي ما زالت قائمة إلى اليوم، شعب بأكمله تعاد عليه الحروب مرة أخرى من هذا الدب الروسي، وتتحرك الهيئات الإنسانية حتى الأمريكية تطالب الرئيس كلينتون بأن يوقف الدعم عن روسيا، ولكن كلينتون يقول إن إيقاف الدعم عن روسيا لا يخدم المصالح الأمريكية. وبوتين قبل عام يطالب الصليب ويطالب اليهود أن يقفوا معه ويقول لهم ينبغي عليكم أن تقفوا معنا وأن تشكرونا لأننا نقوم بحرب ضد الأصولية الإسلامية. بكل هذا الوضوح يتكلم الأعداء، وزعماء المنطقة يتوارون ويستحون من أن ينصروا إخوانهم، والأشد من أنهم يمنعون المسلمين من نصرة إخوانهم. ولننظر إلى موقف الغرب وإلى موقف الأمم المتحدة في أحداث إندونيسيا عندما تحركوا لتقسيم أكبر دولة في العالم الإسلامي من حيث عدد السكان، هذا المجرم كوفي عنان يتكلم على الملأ ويضغط على حكومة إندونيسيا، ويقول لها أمامك ٢٤ ساعة لقسم وفصل تيمور الشرقية عن إندونيسيا، وإلا سوف نضطر بإدخال قوات عسكرية لفصلها بالقوة، وكانت القوات الصليبية الأسترالية على الشواطئ الإندونيسية وفعلا دخلت لفصل تيمور الشرقية، جزء من بلاد العالم الإسلامي. فينبغي أن ننظر إلى الأحداث لا على أنها حلقة مستقلة، بل هي حلقة في سلسلة طويلة من المؤامرات، هي حرب إبادة بكل ما تحمله الكلمة من معنى».

«بې شکه هغه کسان چې زموږ د نن ورځې مصيبتونه ملګرو ملتونو ته وړاندې کوي او غواړي چې هغوی يې ورته حل کړي، هغوی يوازې منافقين دي چې د الله او دهغه له رسول سره غدر کوي او هغو کسانو ته فريب ورکوي چې ايمان يې راوړی دی. ايا زموږ مصيبتونه د همدې ملګرو ملتونو له امله نه دي؟ چا په ١٩٤٧ز کال کې د فلسطين د وېش پرېکړه وکړه ترڅو د اسلام خاوره يهودانو ته ورکړي؟ همدا ملګري ملتونه وو چې په ٤٧م کال کې يې دا پرېکړه وکړه. نو دا کسان چې د عربو د مشرانو په توګه ځانونه معرفي کوي، هغوی لا هم په ملګرو ملتونو کې په هغه څه کافران دي چې

پر محمد ﷺ نازل شوي دي، ځکه دوی خپلې چارې نړېوال مشروعیت ته راجع کوي، یعنې هغوی د قرآن کریم په شریعت او د مصطفی ﷺ په سنتو باندې کافران شوي دي. نو همدا ملګري ملتونه دي چې موږ یې له مصیبتونو کړېږو او هیڅکله باید یو هوښیار مسلمان ورته مراجعه ونه کړي او د هغوی لوري ته لاړ نشي، بلکې دا اداره د جرم له وسائلو څخه یوه وسیله ده، چې هره ورځ زموږ غاړې پرې پرې کیږي خو دوی هیڅ غبرګون نه ښيي. زموږ وروڼه په کشمیر کې له ۵۰ کلونو څخه زیات وخت کیږي چې له سختو عذابونو سره مخ دي، ذبح کیږي، وژل کیږي، پر ناموس او وینو یې تېری کیږي او کورونه یې ورانیږي، خو ملګري ملتونه هیڅ حرکت نه کوي. او نن ورځ له کوم دلیل پرته، ملګري ملتونه د هغو مظلومانو په وړاندې د امریکا د ظالمو او جابرو پرېکړو ملاتړ کوي چې تازه د شوروي اتحاد پر وړاندې له یوې سختې جګړې څخه وتلي دي. او راځئ چې د چیچنیا دویمې جګړې ته وګورو چې تر نن ورځې پورې روانه ده، داسې یو ولس چې په بشپړ ډول د دویم ځل لپاره وربانديې جګړه تپل شوې او د روسي خرس لخوا ځپل کیږي، خو امریکایي بشري ادارې حرکت نه کوي تر دې چې د امریکا له ولسمشر کلینټن څخه غوښاتنه کوي، چې د روسیې ملاتړ بند کړي، خو په ورته وخت کې کلینټن پخپله وایي چې له روسیې څخه د ملاتړ بندول د امریکا له ګټو سره سمون نه لري. او پوتین له دې کال وړاندې له صلیب او یهودانو څخه غوښتنه کړې وه چې د هغه په څنګ کې ودریږي او ورته وایي چې تاسې باید زموږ تر څنګ ودرېږئ او زموږ مننه وکړئ ځکه چې موږ د اسلامي بنسټپالنې پر وړاندې جګړه کوو. په دې کچه په وضاحت سره دښمنان او د سیمې مشران خبرې کوي؛ هغوی د خپلو وروڼو له مرستې پټیږي او شرمیږي، خو تر دې هم سخته لا دا ده چې دوی نور مسلمانان هم د خپلو وروڼو له نصرت او کومک څخه منع کوي. راځئ د اندونیزیا په پېښو کې د لویدیځ موقف او د ملګرو ملتونو دریځ ته وګورو، کله چې هغوی د نفوس له پلوه د اسلامي نړۍ تر ټولو لوی هیواد د وېشلو لپاره حرکت وکړ؛ دا مجرم کوفي عنان په ښکاره خبرې کوي او د اندونیزیا پر حکومت فشار راوړي او ورته وایي چې ستا په وړاندې ۲۴ ساعته وخت دی، ترڅو د ختیځ تیمور جلا کېدل ومنې، که نه نو موږ به د وسلو په زور د هغه د جلا کولو لپاره پوځي ځواکونه ننباسو او په حقیقت کې د استرالیا صلیبي ځواکونه د اندونیزیا سواحلو ته ورننوتل او ختیځ تیمور یې چې د اسلامي نړۍ یوه برخه وه، جلا کړ. نو پکار ده چې پېښو ته د یوې جلا او مستقلې کړۍ په توګه ونه ګورو، بلکې دا د یوې اوږدې سلسلې د توطیو او دسیسو یوه کړۍ ده، چې په پوره مانا یوه تباه کونکې جګړه ده.»

او شیخ ابو مصعب السوري رحمه الله په «دعوة المقاومة» کتاب کې فرمایي:

«الأمم المتحدة باختصار منظمة شكلها حلفاء منتصرون في الحرب العالمية الثانية، لضمان تقاسم السيطرة على العالم، وتقنين توزيع تلك السيطرة فيما بينهم بحسب قوتهم وأوزانهم العسكرية والسياسية. وقد تركت بعض الهوامش الدعائية لبعض مؤسسات تلك المنظمة، لتحرك فيها الشعوب الضعيفة والحكومات التابعة بما يتوهم أنه هامش من التأثير السياسي. وقد تفرع عن

الأمم المتحدة منظمات دولية كثيرة تقاسمت مهمة إخضاع الشعوب الضعيفة والسيطرة عليها . في مجالات التعليم والصحة والزراعة والتنمية البشرية والاقتصادية.. لتتركها عالة تدور في فلك الدول الاستعمارية. ولما اختل ميزان القوى الدولي بانهيار الاتحاد السوفييتي، وانفردت أمريكا بإدارة العالم ورثت أمريكا السيطرة شبه الكاملة على هذه المنظمة التي ستنهار قريباً وتذهب كمؤسسة من مخلفات النظام العالمي القديم. وقد شهدت هذه المنظمة على نفسها بأنها كانت وراء تقنين ضياع حقوق العرب والمسلمين في كل مسائلهم التي عرضت عليها وهذا يحتاج مجلد كامل لسرد تفاصيله. فقد اعترفت المنظمة بإسرائيل، وبكل مؤامراتها بعد قيامها، ولم تفلح قراراتها لصالح العرب والمسلمين إلا لذر رماد قرارات الشجب في العيون. وأما وقد ورثت أمريكا المنظمة. فقد تحول هذا «كوفي العنان» لموظف حقير تابع للبيت الأبيض. حيث شرع مجلس الأمن غزو العراق وتقنين احتلاله، ومهد لتدويل ذلك الاحتلال، كما فعل في أفغانستان والبوسنة سابقاً.. والخلاصة فإن على قوى المقاومة أن تتعامل مع هذه المؤسسات الدولية، وكلاء بحسب ضررها وعداوها على أساس أنها الستار المزيف للعدوان الصهيوني الأمريكي وسيطرة حكومته الخفية على العالم. وعدم الانخداع بمهزلة مواجهة الأمم المتحدة للمطامع الأمريكية. فقصارى دور الدول المناوئة لأمريكا فيها هو حرصهم على زيادة حصة الذئاب والضباع وان غا يتركه الأسد الأمريكي مما افترس من قصعتنا ونهب من ثرواتنا. هذا ناهيك عن الدور التجسسي والاستخباراتي الذي لعبه موظفو تلك المؤسسات في كل مكان حلوا فيه في بلادنا. وعلينا أن نتعامل معها كإحدى مؤسسات العدوان والاحتلال الصهيوأمريكي، فنسف كل وجودهم في بلادنا بلا هوادة. والله المستعان عليهم جميعاً» .

«ملګري ملتونه په لنډه توګه يو داسې سازمان دی چې په دويمه نړيواله جګړه کې ګټونکو متحدينو جوړ کړی، ترڅو پر نړۍ باندې د واکمنۍ وېش تضمين کړي او دا واکمني د هغوی د پوځي او سياسي ځواک او وزن له مخې د دوی ترمنځ ووېشل شي. د دغه سازمان په ځينو ادارو کې کمزورو ولسونو او تابع حکومتونو ته يو څه حاشيوي واکونه پرېښودل شوي ترڅو هغوی پکې داسې انګېري چې ګواکې سياسي اغېز لري. او له ملګرو ملتونو څخه ډېر داسې نړېوال سازمانونه ښاخونه شوي چې مهمه دنده يې د تعليم او تربيې، صحت، زراعت، بشري ودې او اقتصاد په برخو کې د کمزورو ولسونو تابع کول او پر هغوی واکمني ده. ترڅو دا ولسونه د استعمارګرو هيوادونو په محور کې د تابع په توګه پاتې شي. کله چې د شوروي اتحاد په نړېدو سره د نړېوالو ځواکونو توازن ګډوډ شو، امريکا په يوازې ځان د دې نړۍ د ادارې واک په لاس کې واخيست او پر دغه سازمان يې نږدې بشپړ کنټرول ترلاسه کړ، کوم چې ډېر ژر به د پخواني نړېوال نظام د پاتې شونو په توګه ونړېږي. دغه سازمان پخپله شاهدي ورکړې چې دا د عربو او مسلمانانو د حقونو د ضائع کولو لپاره د قوانينو جوړولو ځای و؛ دا په هره هغه مسئله کې چې ورته وړاندې شوې ښکاره ده او دا موضوع د بشپړ تشريح لپاره يو جلا کتاب ته اړتيا لري. دغه سازمان له جوړېدو سمدستي وروسته د اسرائيلو دولت

په رسميت وپېژانده او پخپلو ټولو توطيو کې یې برخه اخيستې او هيځکله د دغه سازمان پرېکړې د عربو او مسلمانانو په ګټه نه دي شوې، خو يوازې د خلکو په سترګو کې خاورې شيندي او کله چې امريکا د دغه سازمان واک په لاس کې واخيست، نو دا کوفي عنان د سپينې مانۍ د يو عادي او سپک مامور په توګه بدل شو. د امنيت شورا د عراق د غصب او اشغالولو لپاره لاره هواره کړه او دغه اشغال ته يې د نړيوال مشروعيت رنګ ورکړ، لکه څنګه چې وړاندې يې په افغانستان او بوسنيا کې هم داسې کړي وو .. خلاصه دا چې د مقاومت پر ځواکونو لازمه ده چې له دغو نړيوالو سازمانونو سره د هغوی د زيان او دښمنۍ له مخې چلند وکړي او دا پر دې اساس چې دوی پر نړۍ باندې د امريکا د واکمنۍ او د صهيونيستي تېري لپاره يو جعلي پوښ دی او د ملګرو ملتونو په دې ډرامه دې نه غوليږي کومه چې د امريکايي ګټو لپاره کار کوي. د امريکا پر وړاندې د دغو دولتونو رول يوازې هغو ليوانو، پړانګانو او خنزيرانو هغه حرص ته ورته دی، چې له هغه ښکاره چې امريکايي زمري زموږ له شتمنيو او زيرمو څخه غصب کړی دی او پرېږدي يې د تر لاسه کولو لپاره يې کوي. دا خو لاپرېږده هغه جاسوسي او استخباراتي رول چې د دغو سازمانونو کارکونکي يې په هر هغه ځای کې ترسره کوي چې زموږ په خاورو کې داخلېږي او پر موږ لازمه ده چې له هغوی سره د تېري کونکو او دښمنو سازمانونو په څېر چلند وکړو او د صهيونيستي-امريکايي اشغال په څېر؛ نو موږ په خپلو هيوادونو کې د هغوی هر ډول شتون په بې رحمۍ سره له منځه وړو او په دوی ټولو باندې يوازې له الله څخه مرسته غوښتل کېدای شي.»

نو دا د بني اسرائيلو په څېر زموږ د پوستکي د هغو قومونو د خوسکي (معبود) ګرځولو درې بېلګې وې، وروسته له هغه چې الله تعالی پر هغوی د فرعون په هلاکولو سره خپل نعمت لورولی و؛ له الله څخه د عافيت او سلامتيا غوښتنه کوو.

## د خوسکي غوره کونکو لپاره په مختلفو بڼو او حالتونو کې الهي سزا

وروسته له هغه چې موږ په دې زمانه کې د بني اسرائيلو په څېر د خوسکي د غوره کولو درې بېلګې يادې کړې، اوس د هغو خلکو لپاره الهي سزا بيانوو چې په دې جرم کې ککړ دي او يا ورته بلنه ورکوي. الله تعالی فرمايي:

إِنَّ الَّذِينَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ

(الأعراف:١٥٢)

(په ځواب کې وويل شول چې) کومو خلکو چې خوسکی معبود نيولی، هغوی به هرو مرو د خپل رب په غضب اخته شي او د دُنيا په ژوندانه کې به له رسوايۍ سره مخامخ وي. درواغ تړونکو ته موږ

همدغه راز سزا ورکوو.

دا څومره سخت ګواښ او تهديد دی .. او دا څومره لويه سزا ده! .. او دا څومره بده انجام دی چې د هغه چا په تمه دی څوک چې په دې بڼو يا نورو بڼو کې د بني اسرائيلو د لارو پيروي کوي،او له الله څخه پرته بل څوک خپل پالونکی، معبود يا قانون جوړونکی ګرځوي او يا له هغو اديانو، مناهجو او بې لارې فکري لارو څخه اقتباس کوي چې د قرآن کريم د شريعت له تګلارې او قانون سره په ټکر کې وي. دا الهي سزا يوازې تر بني اسرائيلو پورې خاص نه ده، بلکې هر هغه څوک چې له هغوی سره ورته والی اختيار کړي، په دې سزا کې ورسره شريک دی، لکه څنګه چې د مفسرينو امام ابن جرير الطبري رحمه الله د دغه مبارک ايت په تفسير کې فرمايي:

ويعني بقوله: ﴿وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُفْتَرِينَ(١٥٢) ﴾ ، وكما جزيت هؤلاء الذين اتخذوا العجل إلهاً، من إحلال الغضب بهم، والإذلال في الحياة الدنيا على كفرهم ربهم، و ردتهم عن دينهم بعد إيمانهم بالله، كذلك نجزي كل من افترى على الله، فكذب عليه، و أقر بألوهية غيره، وعبد شيئا سواه من الأوثان، بعد إقراره بوحدانية الله، وبعد إيمانه به وبأنبيائه ورسله وقيل ذلك، إذا لم يتب من كفره قبل قتله. وبنحو الذي قلنا في ذلك قال جماعة من أهل التأويل. ذكر من قال ذلك: عن أيوب قال: تلا أبو قلابة: سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا - الآية – قال: فهو جزاء كل مفتر يكون إلى يوم القيامة: أن يذله الله عزوجل. و عن ابن عيينة: في قوله: وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُفْتَرِينَ قال: «كل صاحب بدعة ذليل»» .

«مطلب د الله تعالی له دغه قول څخه وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُفْتَرِينَ دا دی چې: لکه څنګه چې موږ د هغو کسانو سزا د نړۍ په ژوند کې غضب او ذلت وګرځاوه چا چې خوسکی خپل معبود نيولی و او هغوی مو له خپل دين څخه وروسته له هغه واړول چې پر الله يې ايمان راوړی و؛ همداسې موږ هر هغه چا ته سزا ورکوو چې پر الله دروغ وتړي او د هغه پر وړاندې کفر وکړي او له الله څخه پرته د بل چا په الوهيت اعتراف وکړي او له بتانو څخه د کوم شي عبادت وکړي، وروسته له هغه چې د الله په توحيد او پر هغه، د هغه پر پيغمبرانو او رسولانو باندې يې د ايمان اقرار کړی وي، که چيرې له خپل کفر څخه مخکې له مړينې توبه ونه باسي.

او په دې اړه چې موږ وويل، د اهل التأويل له يوې ډلې څخه هم همدا رنګه روايتونه راغلي دي. په دې اړه روايت دی چې ايوب وويل: ابو قلابة د دغه ايت كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُفْتَرِينَ تر لوستلو وروسته وفرمايل:

«دا د هر هغه چا سزا ده چې (په دين کې) درواغجن او بدعت کونکی وي د قيامت تر ورځې پورې، به

يې الله تعالی ذليلوي».

او له ابن عيينة څخه د الله تعالی د دغه قول وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ په اړه روايت دی چې هغه وفرمايل: «د هر بدعت خاوند به ذليل وي.»

او سيد قطب رحمه الله په «في ظلال القرآن» کې فرمايي:

«﴿وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ﴾: كل المفترين إلى يوم الدين، فهو جزاء متكرر كلما تكررت جريمة الافتراء على الله، من بني إسرائيل، ومن غير بني إسرائيل. ووعد الله صادق لا محالة. وقد كتب على الذين اتخذوا العجل الغضب والذلة».

« وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ په الله باندې د دروا‌غ تړلو په جرم تړول دروا‌غجنان د قيامت تر ورځې پورې په دې سزا محکوم دي؛ دا سزا تکراري ده، کله چې هم په الله باندې د دروا‌غ تړلو جرم تکرار شي، دا جزا ورسره تکرارېږي، که هغه له بني اسرائيلو څخه وي او که له هغوی پرته د بل چا لخوا وي. او د الله وعده صادقه او حتمي ده او په هغو کسانو باندې چې خوسکی يې غوره کړی، غضب او ذلت ليکل شوی دی.»

او په پای کې: بنده بايد ځان وساتي چې د الله د دښمنانو د لارو پيروي د هغوی په مختلفو ډلو او مذهبونو کې ونکړي، ترڅو پر ده باندې هغه څه رانشي چې پر بني اسرائيلو راغلي وو؛ ځکه د الله قانون او سنت د چا په وړاندې مينه او طرفداري نه کوي.

او د چا نفس چې داسې مکر وکړ او د انسانانو او پيريانو شيطانانو وغولاوه او په دې کارونو کې په کوم شي کې ککړ شو، نو هغه بايد سمدستي صادقانه توبې ته وځغلي؛ ځکه د توبې دروازه د هر هغه چا لپاره خلاصه ده چې توبه وباسي، ايمان راوړي او خپل عملونه سم کړي. الله تعالی فرمايي:

إِنَّ الَّذِينَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ ○ وَالَّذِينَ عَمِلُوا السَّيِّئَاتِ ثُمَّ تَابُوا مِن بَعْدِهَا وَآمَنُوا إِنَّ رَبَّكَ مِن بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ [الأعراف: ۱۵۳-۱۵۲]

«(په ځواب کې وويل شول چې) کومو خلکو چې خوسکی معبود نيولی، هغوی به هرو مرو د خپل رب په غضب اخته شي او د دُنيا په ژوندانه کې به له رسوايی سره مخامخ وي. دروا‌غ تړونکو ته موږ همدغه راز سزا ورکوو». او کوم خلك چې بدې چارې سر ته رسوي، بيا توبه وباسي او ايمان راوړي، نو په يقيني توګه له دې توبې او ايمان څخه وروسته ستا رب بښونکی او رحم کوونکی دی.

امام ابن کثير رحمه الله په خپل تفسير کې فرمايي:

«وقوله: وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ (١٥٢) نائلة لكل من افترى بدعة، فإن ذل البدعة و مخالفة الرسالة متصلة من قلبه على كتفيه، كما قال الحسن البصري: «إن ذل البدعة على أكتافهم، وإن هملجت بهم البغلات، وطقطقت بهم البراذين». وهكذا روى أيوب السختياني، عن أبي قلابة الجرمي، أنه قرأ هذه الآية: وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ (١٥٢) قال: «هي والله لكل مفتر إلى يوم القيامة». وقال سفيان بن عيينة: «كل صاحب بدعة ذليل». ثم نبه تعالى عباده و أرشدهم إلى أنه يقبل توبة عباده من أي ذنب كان، حتى ولو كان من كفر أو شرك أو نفاق أو شقاق؛ ولهذا عقب هذه القصة بقوله وَالَّذِينَ عَمِلُوا السَّيِّئَاتِ ثُمَّ تَابُوا مِن بَعْدِهَا وَآمَنُوا إِنَّ رَبَّكَ أي: يا محمد، يا رسول الرحمة ونبي النور (مِنْ بَعْدِهَا) أي: من بعد تلك الفعلة (لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ)» .

«د الله تعالی دا قول وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ (١٥٢) د هر هغه چا برخه ده چې په دين کې بدعت او درواغ راوباسي؛ ځکه د بدعت ذلت او د شريعت سره د مخالفت ککړتيا د بدعت کونکي له زړه څخه د هغه پر اوږو نښتې وي، لکه څنګه چې حسن بصري رحمه الله فرمايي: «بې شکه د بدعت ذلت د دوی پر اوږو باندې سپور دی، که څه هم دوی د خپلو خچرو (قاطرو) په واسطه په غرور سره تيز لاړ شي او پر اسونو باندې ځانونه لوړ وښيي.» او همدارنګه ايوب سختياني له ابي قلابة جرمي څخه روايت کړی چې هغه دا ايت وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ (١٥٢) تلاوت کړ او ويې فرمايل: «په الله قسم، دا سزا د قيامت تر ورځې پورې د هر درواغجن (بدعت کونکي) لپاره ده.» او سفيان بن عيينة فرمايي: «د هر بدعت خاوند به ذليل وي». بيا الله تعالی خپل بندګان خبردار کړل او هغې لارې ته يې ورسم کړل چې هغه د خپلو بندګانو توبه له هر ډول ګناه څخه قبلوي، که څه هم هغه ګناه کفر، شرک، نفاق يا له حق سره مخالفت وي؛ او له همدې امله يې د دغې کيسې په تعقيب کې وفرمايل: وَالَّذِينَ عَمِلُوا السَّيِّئَاتِ ثُمَّ تَابُوا مِن بَعْدِهَا وَآمَنُوا إِنَّ رَبَّكَ يعني: اې محمده، اې د رحمت پيغمبره او اې د نور نبي (مِنْ بَعْدِهَا) يعني: وروسته له دې کاره (لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ)».

**والحمد لله رب العالمين**